ننګیالی ـ بخرکی

# زموږ په قسمت کي لکه چي یوازي اوښکي او غم دی؟

دشهیدعبدالمجیدبابي په ناګهاني شهادت سره: نن پښتانه منورين ،بیا دیوه داسي غم سره لاس اوګریوان دي چي تیرغم یې ځای پر ځای هیرسواو یوبل غم ورسره جمعه سو، دتیروغمونواوښکي خولا تر اوسه نوي وچي سوي ، چي نورو اوښکو سیلاب وکړ،ددې مظلوم پښتون ملت ګناه څه ده؟ نن دپښتنو هغه دقلم ،علم اوادب خلک په نښه کیږي. دهراته بیا تر با جوړه او هغه سیمي چي پښتانه په کښي میشت دي ،هر ورځ په لسهاو پښتانه وژل کیږي ،دنړۍ ستر سرمایداري هیوادونه دناټوپه نظامي تشکیل سره دډموکراسۍ تر نامه لاندي ،ددې هیوادپه دننه کي هغه ظلمونه ،ناخوالي اوغیري بشري کړني سرته رسوي ، چي زموږ نړۍ یې په تیرو وختونو کي بیلګه نه لري ،نړۍ خپل بیلانس دلاسه ورکړی دی.امریکایان دملتونو، قومونو او هیوادونوپه ژوند اوراتلونکي باندي لوبي کوي.زموږ په هیواد کي تر اتیافیصده ډیرخلک غواړي ، چي اشغال ګر قوتونه دي نور زموږ دظلم څخه لاس واخلي اوداخاوره دي نور افغانانو ته ورپریږدي، په څو خوږو شعارونو دي ،ددې خاوري تمامیت ،آزادي ،رفاه ،استقلال نه را نیست اونابوده کوي.افغانانو دتاریخ په اوږدوکي هم آزادي په خپلو متواخیستي وه ،هم یې په قدر پوهیږي، هم یې دهیواد په دننه کي خپله ډموکراسي لرله او هم یې ساتلي وه ،خو هغه وخت چي خارجي مداخلي را پیل سوې ،نو یې هم زموږ ټوله روبنایي بنسټونه را خراب کړه .نن ورځ چي دناټو ٤٤ هیوادونه دامریکای اشغال ملاتړي دي ،په هیواد کي تر بل هر وخت امنیت خراب اودافغانانوژوند ، فرهنګ ،کلتورته سخت ګواښ متوجه دی.

دشهید عبدالمجید بابي پرمړینه ، نه یوازي دهغه منوره کورنۍ بلکي؛ټول لراوبر پښتانه او افغانان ژاړي ،پر کندهار دماتم تور لوګی ګرځي.دغم کمبله مو تولیدل نه لري ،داوښکودستمالونه موداوښکو توان نه لري ، پرپښتنو خو ښونځی ،علمي مؤسیسې وتړل سوې اوس هغه څه چي دپخوانیو وختونو راپاته منورين اودقلم خاوندان دي هغه هم

یو،یورا څخه اخیستل کیږي. زه دخپل ځان او داحمدشاه بابا دعلمي ادبي ټولني په استازیتوب ددولتي چارواکو څخه غواړم چي ددغسي شخصیتونو ،دقلم دخاوندانو او منورینو ژوند ته پا ملرنه وکړي.هغوی ته کورونه دامن په ځای کي ورکړل سي،اودمحافیظنوپه وسیله سره هغه وساتل سي.او دشهید عبدالمجید بابي قاتلان باید ونیول سي اوددولت یا قانون ومنګولوته دي وسپارل سي ،په دې باب نه یوازي دولت بلکي ؛ددولت دخالفینو څخه هم زما غوښتنه دا ده ،چي ددغسي هیوادپالوژوندته پاملرنه وکړي.که نه ددې قوم اینده په تاریکي کي ده اویوه سخته دسیسه پښتون قوم ته متوجه ده.

نن چي شهیدبابی زموږ په منځ کي نسته دایوه لویه ضایعه بولم،هغه په کندهار کي دکلتور،ادب اومذهبي بنسټونو دپاره ، دویاړ وړ خدمتونه کړي وه. دهغه په مرسته په کندهار کي موزیم دبیا دپاره فعاله سوه ، هغه دکندهار هغه کتابخانه ، چي دمجاهیدنو په وخت کي په خپل منځي جنګونو کي په سل کي اتیا فیصده خرابه سوې وه بیرته ورغول . اوددولتي مطبعې ماشینونه یې هم دبیا لپاره سمبال کړه ، شهید بابي ، په کندهار کي داطلاعات او کلتور په برخه کي ډیرو ټولنو،رسانیو ته دخپرونو چانسونه برابر کړه، وشهید عبدالمجید بابي ته داطلاعات او کلتورهغه دکړاوه ډکه ؛خو مهمه چوکی وړ په برخه سوه چي په پخوا کي هم دافغانستان هغه ډیرو لووړو لیکوالان اودوخت نامتو دقلم پریشتې پر نوموړي مقام ناست وه.که څه هم نوموړی ریاست په ۱۳۰۱هـ ش کال منځ ته راغلی ؤ.چي تر اوسه یې موږ په کارنامو افتخار کوو.لکه : مرحوم عبدالعز یز خان ،مرحوم عبدالحی حبیبي صاحب ،مرحوم عطایي صاحب ، مرحوم اغامحمد کرزی صاحب ،مرحوم ایوبي صاحب ، مرحوم عبدالصمد ویسا صاحب ، مرحوم محمد علم بڅرکی صاحب اوداسي نور منورین ،چي نوموړی ریاست یې پرمخ په بریالیتوب سره وړی.او دطلوع افغان نامتو ور ځپاڼه یې چلول ، شهید بابي صاحب هم نوموړې ور ځپاڼه او دکندهار کلتوري ارزښتونه په ډیر هوښیارانه توګه پر مخ بیول.دنوموړي شهادت نه یوازي دکندهار فرهنګیان نا ارامه کړه .بلکي دټولو پښتنو ورڼواوافغانانو دپاره یوه نه جبرا کیدونکې ضا یعه ده . داحمدشاه بابا علمي ادبي ټولنه دهغه کورنۍ اود شهید دوستانواو پلویانو ته دزړه له کومي تسلیت وایي اودایوه نه جبرانیدونکې پیښه ګڼي خدای دي دته جنتونه ور په نصیب کي .(اناالله وانا الیه را جعون)

داحمدشاه بابا دعلمي ـ ادبي ټولني مشر

ننګيالی بښرکی




